PASHTO/پښتو



FEDERAL WAY PUBLIC SCHOOLS

# کلنۍ خبرتیاوې

## او نور ګټور مالومات

## 2024-25 ښوونيز کال

## د دې موضوع دننه


زموږ د تعليمي حوزې په اړه مالومات ................. 1
لومړی سرلیک: الف برخه - د ښوونکو د ورتیاوو په اړه د والدینو خبرتیا ................................................ 2
د استخدام بیانیه .......................................... 2
ثبت شوي جنسي مجرمین ............................ 2
د ماشوم مونده .......................................... 2
د زده کوونکي د پېښو او ناروغۍ اړوند بیمې پوښښ 3
د معافیت اړتیاوې ........................................ 3
د تور ټوخي لپاره د ټيټ لګښت یا وړیا واکسین .... 3
زکام (انفلونزا) ډوز ......................................... 3
د HIV او جنسي روغتیا د کورنۍ د مالوماتو ناستې 3
بشري پاپیلوما وایرس (HPV) .......................... 4
د مغزو دېردې پاړسوب ................................ 5
د خونديتوب زده کړې تالار ............................... 5
د خوندي ښوونځيو د لارښوونې لیکه ................ 6
د آفت وژونکو درملو کارول .............................. 7
ParentSquare ............................................. 8
Microsoft Office 365 او
Google G Suite for Education ....................... 9




## زموږ د تعليمي حوزې په اړه مالومات

د Federal Way دولتي ښوونځي په جدي توګه دې ته ژمنه ده چې ټولو زده کوونکو د زده کړې زمینه برابره کړي. د دې یوه مهمه برخه زموږ د زده کوونکو د والدینو او سرپرستانو سره په بشپړه او روښانه توګه اړیکه ده.

په دې نشریه کې هغه کلنۍ خبرتیاوې شاملې دي چې د ایالتي او فدرالي قانون لخوا اړینې دي.

مهرباني وکړئ دا کلنۍ خبرتیا ولولئ، او که تاسو د ځانګړو برخو په اړه کومه پوښتنه لرئ د اړوندو سرچینو سره د اړیکې نیولو طریقه په ټوله نشریه کې شته.

هر زده کوونکی:
یو غړی. یو خوب. یو **روښانه** راتلونکی.


د ارتباط ځانګه
33330 8th Ave. S.
Federal Way, WA 98003

## لومړی سرلیک: الف برخه - د ښوونکو د ورتیاوو په اړه د والدینو خبرتیا

د لومړي سرليک، الف برخه يوه فدرالي برنامه ده چې د ماشومانو ځانګړي اړتياوې پوره کوي — له وړکتون څخه تر 12 ټولګي — د هغه زده کوونکو لپاره چې د زده کړو په جريان کې د ستونزو سره مخ وي. د لومړي سرليک د پروګرامونو او خدماتو له لارې عادي لارښوونې او نصاب چمتو کېږي چې له هغه زده کوونکو سره د اکاډميکو معيارونه په پوره کولو او دوی د هغه فعاليتونه په ترسره کولو کې مرسته کوي چې دوی يې زده کولای شي. د لومړي سرليک پروګرامونه د ماشومانو لپاره دا فرصت برابروي چې خپله مبارزه په اکاډميکه برخه کې وساتي. والدين حق لري چې د خپلو زده کوونکو د ښوونکو ورتياوې وپيژني.

که تاسو کومه غوښتنه سپارئ، مهرباني وکړئ لاندې مالومات پکې شامل کړئ

- د ماشوم نوم.
- د ماشوم ښوونځی.
- د ښوونکي نوم.
- ستاسو نوم او د بریښنالیک پته.

خپل غوښتنلیک دغه پتې ته واستوئ:

**Federal Way دولتي ښوونځي**
**Jennifer Hymer - بشري سرچینې**
jhymer@fwps.org
33330 8th Ave. S.
Federal Way, WA 98003

## د استخدام بيانيه

تعليمي حوزه بايد د ټولو غوښتونکو او کارمندانو سره د استخدام، ساتنې، ګمارنې، ليږد، ارتقاء او روزنې په برخه کې په مساوي توګه کاري فرصتونه او فعاليتونه چمتو کړي. د کارموندنې دا ډول مساوي فرصتونه او چلند بايد د نژاد، مذهب، رنګ، مليت، عمر، جنسيت، د جنسي تمايل په شمول د جنډر يا جنسي هويت، مدني حالت يا د معلوليت لرونکو اشخاصو اړوند له تبعيض پرته چمتو شي. که چيرې دوه نوماندان وي، نو تعليمي حوزه ممکن د متحده اياالتو تبعه يا تابعيت ته د يو اجازه لرونکي بهرني شخص په پرتله ترجيح ورکړي. د موافقې اړوند پروسيجرونو په اړه پوښتنې ممکن د ښوونځي د تعليمي حوزې Title IX/RCW 28A.640 مدير او/يا د 504 برخې همغږي کوونکو ته واستول شي.

## ثبت شوي جنسي مجرمين

د هغه ثبت شويو جنسي مجرمينو د بشپړ او تازه ليست موندلو لپاره چې په ټولنه کې ژوند کوي مهرباني وکړئ د خپل سيمه ايزي قانون پلي کوونکي اداري سره اړيکه ونيسئ.

## د ماشوم موندنه

د ماشوم موندنه د هغو کسانو د موندلو، ارزونې او پيژندلو لپاره د ځانګړو فعاليتونو د ترسره کولو پروسه ده چې شکمن معلوليت ولري او عمر يې 21 کلنۍ ته رسېدلی وي او د تعليمي حوزې په حدودو کې ژوند کوي. د Federal Way تعليمي حوزه وړيا معايناتي خدمات وړاندې کوي تر څو د خنډ يا معلوليت لرونکي هغه ماشومان په ګوته شي چې عمرونه يې له 3 څخه تر 5 کلونو پورې وي او ممکن لومړنۍ مداخلې يا ځانګړو تعليمي خدماتو ته اړتيا ولري.

په دې ستونزو کې کيدای دغه موارد شامل وي: وينا/ژبه، زده کړه او پوهه، همغږي او حرکت، ټولنيز مهارتونه، د ځان سره د مرستې مهارتونه (خواړه، جامې، تشناب)، د چلند مديريت، ليد يا اوريدل. هغه ماشومان چې لا له وړاندې د معلوليت سره پيژندل شوي وي، که چيرې د لومړنۍ مداخلې/ځانګړي زده کړې خدمات ترلاسه نکړي، دوی هم بايد وارزول شي.

که تاسو د خپل ماشوم د ودې په اړه انديښنې/ پوښتنې لرئ، مهرباني وکړئ د ارزونې د مهالويش لپاره زنګ ووهئ.

**د 0 څخه تر 3 کلونو پورې ماشومان:**
(253) 874-5445 له زېږون څخه تر درې کلنۍ ماشومانو پرمختيايي مرکز؛ يا
(253) 854-5660د ماشومانو د درملنې مرکز

**هغه ماشومان چې عمرونه يې 3 کلن يا له دې څخه پورته وي:**
(253) 945-2093 د Federal Way تعليمي حوزې د ماشوم موندنه

که ستاسو کورنۍ په لنډمهاله حالت کې ژوند کوي، تاسو کولای شئ د هغې تعليمي حوزې سره اړيکه ونيسئ چې هلته تاسو په اړونده ارزونه کې ګډون کوئ.

### عنوان نهم هماهنگ کننده

Jennifer Koskovich
Nancy Pappas
253-945-2000
titleix@fwps.org

### د مدني حقونو د تطبيق چارو مدير

Jennifer Koskovich
Nancy Pappas
253-945-2000
compliance@fwps.org

### د 504 مادې د تطبيق چارو همغږي کوونکی

Toni Cheever
253-945-2086
504@fwps.org

### د ADA د تطبيق مدير

Nancy Pappas
253-945-2000
ADA@fwps.org

## د Federal Way دولتي ښوونځيو سره په اړيکه کې اوسئ

تاسو کولای شئ په انلاين بڼه مونږ پر www.fwps.org پته ومومئ
مونږ پر فيسبوک او ټويټر @FWPS210 تعقيب کړئ

## د معافیت اړتیاوې

هر ماشوم باید په طبي ډول د معافیت د وضعیت تصدیق شوي سند (CIS) کې د خپلو واکسینونو ریکارډ ولري یا د هرې ناروغۍ لپاره د معافیت بشپړ سند ولري چې ښوونځي ته د ننوتلو لپاره بشپړ معافیت ته اړتیا لري. پر وخت واکسین کول ماشومانو ته غوره خوندیتوب ورکوي. ساري ناروغۍ لاهم شته، او نړیوال سفرونه کولای شي د نړۍ په نورو برخو کې شته عمومي ناروغۍ زموږ ټولنو ته انتقال کړي. په کور او ښوونځي کې د تازه ریکارډونو ساتل مهم دي. ټول هغه ماشومان چې عمرونه یې د 19 کلونو څخه کم وي زموږ په ایالت کې د ماشومانو لپاره واکسین (VFC) پروګرام اړوند کلینیکونو کې په وړیا توګه واکسین ترلاسه کولای شي. وړاندیز کوونکي ممکن د اداري فیس واخلي، خو که چیرې د والدینو لخوا غوښتنه وشي، دوی باید دا فیس معاف کړي. د واکسین اړوند دنده نقشې په کارولو سره د VFC کلینیکونه ومومئ [https://fortress.wa.gov/doh/vaccinemap](https://fortress.wa.gov/doh/vaccinemap).

د ښوونځي مخکې مرحلې او ماشومتوب اړوند اړتیاوو لپاره:
[https://doh.wa.gov/community-and-environment/schools/immunization](https://doh.wa.gov/community-and-environment/schools/immunization)

## د تور ټوخي لپاره د ټیټ لګښت یا وړیا واکسین

که څه هم په واشنګټن ایالت کې د توري ټوخلي (سرفه سیاه) قضیې د تیرو کلونو په پرتله اوس مهال په لوړه کچه نه دي لیدل شوي، خو بیا هم د عامې روغتیا وزارت د ټولو ماشومانو او لویانو لپاره دا واکسین وړاندیز کوي. دا په ځانګړې توګه د میندوارو میرمنو لپاره په درییمه ربعه کې مهم دی ترڅو د ژوند په لومړیو میاشتو کې د نوي زیږیدونکي ماشوم ساتنه وکړي. په واشنګټن کې د ماشومتوب د واکسین پروګرام له لارې تر 18 کلنۍ پورې ماشومان په وړیا ډول واکسین ترلاسه کوي. په ډیرو درملتونونو کې د هغه لویانو لپاره د ټیټ لګښت Tdap تقویتي ډوزونه وړاندیز کېږي چې بیمه نه لري یا نه شي کولای د واکسین لپاره پیسې ورکړي. په ټیټ لګښت واکسین کې ممکن اداري فیس شامل وي، مګر که تاسو دا فیس نه لرئ، تاسو کولای شئ د فیس د معافېدو غوښتنه وکړئ. که تاسو لا له وړاندې د ټولنیزې روغتیا یا د عمومي روغتیا په مرکز کې مراجعه کونکي یاست، تاسو کولای شئ هلته د ماشومانو او لویانو لپاره په ټیټ لګښت یا وړیا توګه د تور ټوخي واکسین ترلاسه کړئ. د تور ټوخي او د واکسینونو د ترلاسه کولو په اړه د نورو مالوماتو لپاره، دلته مراجعه وکړئ:
[https://www.doh.wa.gov/YouandYourFamily/IllnessandDisease/WhoopingCough/WhoopingCoughFAQ](https://www.doh.wa.gov/YouandYourFamily/IllnessandDisease/WhoopingCough/WhoopingCoughFAQ)

## زکام (انفلونزا) ډوز

د ناروغیو د کنټرول مرکزونه (CDC) وایي هر څوک چې لړترلږه د 6 میاشتو عمر لري باید د زکام یا انفلونزا اړوند کلنی واکسین ترلاسه کړي، او دا چې په 2024-2025 کې د انفلونزا واکسین ترلاسه کول تر بل هر وخت ډیر مهم دي. انفلوینزا ("زکام") د ماشومانو لپاره د عامو زکامونو په پرتله خورا خطرناک دی. هر کال، ډیری ماشومان د موسمي انفلونزا سره ناروغه کیږي؛ ځینې ناروغۍ د مړینې لامل کیږي. هر کال په اوسط ډول د 5 کلونو څخه کم عمر لرونکي 20,000 ماشومان د انفلونزا اختلالاتو له امله په روغتون کې بستر کیږي. نور مالومات دلته ترلاسه کړئ:

- [https://kingcounty.gov/depts/health/communicable-diseases/immunization/clinics.aspx](https://kingcounty.gov/depts/health/communicable-diseases/immunization/clinics.aspx)
- [https://www.cdc.gov/flu/about/index.html](https://www.cdc.gov/flu/about/index.html)

## د HIV او جنسي روغتیا د کورنۍ د مالوماتو ناستې

### دا پریزنټېشن یوازې د والدینو او سرپرستانو لپاره دی

د Federal Way تعلیمي حوزه دا فرصت برابروي چې د 5 څخه تر 12 ټولګي پورې زده کوونکو لپاره د ایچ آی وي/ ایډز HIV/AIDS د مخنیوي نصاب د کورنیو سره شریک کړي. دا نصاب د ناروغۍ پر لیږد او مخنیوي تمرکز کوي، او له دې څخه پر ځان ساتنې ټینګار کوي. د واشنګټن ایالت د جامع ایډز قانون (2SSB 6221) چې په 1998 کې تصویب شوی وو، لاندې مواردو ته اشاره کوي:

- 402 ماده. "زده کوونکي باید لږترلږه په هر تعلیمي کال کې یو ځل د ایچ آی وي/ ایډز HIV/AIDS په اړه مالومات ترلاسه کړي او دا برنامه به د پنځم ټولګي څخه مخکې دوره کې وي."
- 402 ماده. "که چیرې د زده کوونکي والدینو یا سرپرست، د تعلیمي حوزې په غونډو او پریزنټیشنونو کې برخه اخیستې وي، او دې برنامې د ګډون لپاره یې په لیکلي ډول اعتراضونه وړاندې کړي وي، نو هیڅ زده کوونکی مکلف نه دی چې د ایچ آی وي/ ایډز د مخنیوي په اړه هرو مرو مالومات ترلاسه کړي ."

په دې ښوونیز کال کې به د ایچ آی وي (HIV) او جنسي روغتیا اړوند کورنیو ته د مالومات ورکولو دوې ناستې جوړې شي:

- 2024 د ډسمبر 4 د ماښام له 5:30 څخه تر 6:30 بجو
- 2025 د مارچ 5 د ماښام له 5:30 څخه تر 6:30 بجو

د لا زیاتو مالوماتو لپاره دلته مراجعه وکړئ: [https://www.fwps.org/programs-and-services/health-services/hivaids-and-sexual-health-curriculum](https://www.fwps.org/programs-and-services/health-services/hivaids-and-sexual-health-curriculum)




## د زده کوونکي د ټپونو او ناروغۍ اړوند بیمې پوښښ

که ستاسو زده کوونکی د ښوونځي په لوبو کې شامل شوی وي، هغه باید بیمه ولري.

که تاسو د خپل زده کوونکي بیمه نه لرئ، FWPS کولای شي د خصوصي بیمې شرکت له لارې د بیمې د ترلاسه کولو د طریقې په اړه مالومات چمتو کړي.

Myers | Stevens | Toohey & Co., Inc.

په انتخابونو کې لاندې موارد شامل دي:

- د زده کوونکي حادثه او د ناروغۍ پلان.
- د ښوونځیو تر مینځ د فوټبال معالجې پلانونه.
- د ښوونځي پر مهال د حادثې پلانونه.
- د بشپړ وخت 24-ساعته حادثې پلانونه.
- د غاښونو د روغتیا اړوند حادثې پلان.

د آنلاین نوم لیکنې لپاره، مهرباني وکړئ لاندې لینک تعقیب کړئ

[https://myers-stevens.com/enrollment](https://myers-stevens.com/enrollment)

800-827-4695 ته زنګ ووهئ

د سهار له 7:30 څخه د ماسپښین تر 4 بجو (PST)

## بشري پاپیلوما وایرس (HPV)

د 2005 کال تر جولای پورې، په واشنګټن کې ښوونځي باید د 6-12 ټولګیو ته د ټولو زده کوونکو والدینو یا سرپرستانو ته د بشري پاپیلوما وایروس د ناروغۍ په اړه مالومات وړاندې کړي. RCW 28A.210.080

### بشري پاپیلوما وایرس (HPV) څه شی دی؟

HPV یو عام وایرس دی چې په ابتدایي توګه د جنسي اړیکو له لارې خپرېږي. د HPV انتان تر 75 سلنې پورې د 15 څخه تر 24 کلنۍ عمر لرونکو کسانو تر مینځ واقع کیږي. HPV د رحم د سرطان، د مقعد سرطان، او د تناسلي زخو لامل کیږي. د HPV ډولونه چې کېدای شي د تناسلي زخو لامل شي د هغه ډولونو په څېر نه دي چې د سرطان لامل کیږي. د HPV ځینې ډولونه کېدای شي د عضوي او مقعد سرطان لامل شي.

### د HPV نښې نښانې څه دي؟

ډیری وختونه، په ناروغۍ اخته کسان هیڅ نښې نه لري او کېدای شي پرته له دې چې په ځان پوه شي وایروس خپروي. ځینې خلک په ځان پوهیږي چې په HPV اخته شوي دي ځکه دوی په بدن کې ځینې نښې نښانې لري لکه تناسلي أعضاوو کې مرخیړې. ښځې ممکن د رحم د سرطان د معاینې (پاپ ټیسټ) او HPV ازموینې له لارې دا معلومه کړي چې ایا دوی HPV لري که نه. د روغتیایي پاملرنې خدماتو چمتو کونکي معمولا د HPV معاینات نه ترسره کوي مګر په هغه صورت کې معاینات کوي چې دوی په پاپ (Pap) ټسیټ کې د رحم د غاړې (عنق) په حجرو کې غیر معمولي بدلونونه ومومي.

### د HPV د عفونت څخه څنګه مخنیوی کیدای شي؟

د HPV انفیکشن یا اخته کېدو د مخنیوي غوره لاره د ټولو جنسي فعالیتونو څخه ډډه کول دي. حتی هغه کسان چې یوازې د ژوند یو ملګری لري هم کېدای شي په HPV اخته شي، که چیرې د دوی ملګري پخوانی جنسي ملګري ولري. د جنسي فعالیت پرمهال د کنډوم کارول د جنسي انتاناتو او ناروغیو لکه HPV پروړاندې ښه محافظت وړاندې کوي. د HPV واکسین هم تر ټولو غوره محافظت وړاندې کوي، خو دا په هغه صورت کې که چیرې دا واکسین د جنسي فعالیت له پیلولو مخکې ورکړل شي - واکسینونه د موجوده HPV انفیکشن مخه نه نیسي. د HPV واکسین کولای شي د HPV ځینې خورا عام او جدي وایرس باندې د اخته کېدو مخه ونیسي چې د رحم، تناسل او مقعد د مرخیړو او سرطان لامل کیږي.

### څوک باید واکسین شي او کله یې باید ترلاسه کړي؟

- د **HPV واکسین دوه ډوزونه د 11-12 کلنو ماشومانو (هلکانو او نجونو) لپاره توصیه کیږي؛** واکسین کېدای شي د 9 کلنۍ څخه پیل شي.
- د HPV واکسین دوه ډوزونه د ډیرو خلکو لپاره وړاندیز کیږي چې د 15 کلنۍ څخه مخکې ددې واکسین لړۍ پیلېږي.
  - » د HPV واکسین دوهم ډوز باید د لومړي ډوز څخه له 6 څخه تر 12 میاشتو وروسته ورکړل شي.
  - » هغه تنکي ځوانان چې د 5 میاشتو څخه په کمه موده کې دوه ډوزونه ترلاسه کوي د HPV واکسین دریم ډوز ته اړتیا لري.
- د HPV واکسین درې دوزونه د تنکیو او هغه ځوانانو لپاره ورکول کېږي چې د واکسین لړۍ یې له 15 څخه تر 26 کلونو پورې پیل کړې وي  او د هغو خلکو لپاره یې هم سپارښتنه کېږي چې د بدن معافیت یې کم وي.
  - » د دریو ډوزونو وړاندیز شوی مهالویش 0، 1-2 میاشتې او 6 میاشتې دی.
  - » درې ډوزونه له 9 څخه تر 26 کلنۍ عمر لرونکو هغه کسانو لپاره وړاندې کېږي چې د بدن معافیت یې کمزوره وي (چې په دې کې په HIV اخته کسان هم شامل دي).

**بشري پاپیلوما وایرس (HPV)، د رحم سرطان، او د واکسین سرچینې**

د واشنګټن ایالت د روغتیا ریاست:
https://doh.wa.gov/you-and-your-family/illness-and-disease-z/meningitis-meningococcal-disease

د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي مرکزونه:
https://www.cdc.gov/hpv/about

د امریکا د سرطان ناروغۍ ټولنه:
https://www.cancer.org/cancer/risk-prevention/hpv/hpv-vaccine.html

## د مغزو د پردې د پړسوب ناروغۍ اړوند منابع

د واشنګټن ایالت د روغتیا ریاست:
[https://doh.wa.gov/you-and-your-family/illness-and-disease-z/meningitis-meningococcal-disease](https://doh.wa.gov/you-and-your-family/illness-and-disease-z/meningitis-meningococcal-disease)

د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي مرکزونه:
[www.cdc.gov/meningococcal/about/index.html](https://www.cdc.gov/meningococcal/about/index.html)





## د مغزو دپردې پاړسوب

د 2005 کال د جولای تر میاشتې پورې، په واشنګټن کې ښوونځي باید د مغزو دپردې د پړسوب ناروغۍ په اړه مالومات د ټولو هغه زده کوونکو والدینو یا ساتونکو ته چمتو کړي چې 6-12 ټولګي ته داخلیږي. RCW 28A.210.080

### د مغزو د پردې د پړسوب ناروغي

منینګوکوکل (Meningococcal) ناروغي د اخته کسانو سره د مستقیم تماس، د ټوخې، ښکلولو، یا د خولې په واسطه د هر شي د شریکولو (لکه د اوبو بوتلان، د خوړو لوښي، لب شیرین، د غاښونو برس او داسي نورو شیانو) سره خپریږي. د مینینګوکوکل ناروغۍ نښې نښانې معمولا ناڅاپه پیلیږي او تبه ، سر درد او د غاړې سختوالی پکې شامل وي. دا کېدای شي د انفلونزا (زکام) سره ورته نښو نښانو سره پیل شي. هغه خلک چې د مینینګوکوکل ناروغي لري ډیری وختونه د زړه بدوالی، کانګې، د رڼا پر وړاندې ډېر حساسیت، د پوستکي خارښ (ګرمکي) او سرګرځی هم لري. دا کېدای شي د سینه بغل، د وینې جریان انفیکشن، او مننژیت (د مغزو او نخاعي رګونو د پوښښ پړسوب) لامل شي. سخته او جدي ناروغي کېدای شي د دماغي زیان، د اوریدلو یا د بدن غړو د لاسه ورکولو او مړینې لامل شي. له نېکه مرغه، دا ډول ژوند ګواښونکي انفیکشن ډېر لږ پېښېږي. موږ عموما په واشنګټن کې د 26 څخه تر 76 پورې راپورونه لرو، چې په دې کې له 1 څخه تر 8 د مړینې راپور هم شامل دی. په مینینګوکوکل ناروغۍ د تنکیو ماشومانو او ځوانانو د اخته کېدو احتمال ډېر دی، په ځانګړې توګه هغه وخت چې دوی په ټولنیزو تاسیساتو لکه د کالج لیلیه کې اوسېږي.

### د مغزو د پردې د پړسوب ناروغي واکسین (MCV4)

MCV4 ستاسو ماشوم د هغه عمومي باکتریاوو پروړاندې ساتي چې د مینینګوکوکل ناروغي لامل کیږي. واشنګټن ټول وړاندیز شوي واکسینونه تر 18 کلنۍ پورې ماشومانو لپاره چمتو کوي، او دا واکسینونه په ټول ایالت کې د روغتیایي پاملرنې د چمتو کونکو سره شته. وړاندیز کونکي ممکن د دفتر د ملاقات فیس او د واکسین د تنظیمولو لپاره اداري فیس واخلي. هغه کسان چې اداري فیس نه شي تادیه کولای، دوی کولای شي د معافیت غوښتنه وکړي. صحي او روغ تنکي ځوانان باید د MCV4 یو ډوز په 11-12 کلنۍ کې ترلاسه کړي. هغه تنکي ځوانان چې په دې وخت کې یې لومړی ډوز نه وي ترلاسه کړی باید ژر تر ژره دا ډوز ترلاسه کړي. دوهم ډوز (یا تقویتي ډوز/ بوسټر) په 16 کلنۍ کې یا کالج ته د تګ مخکې هروخت وړاندیز کیږي. د دې واکسین په اړه د خپل روغتیایي پاملرنې د چمتو کونکي سره خبرې وکړئ.

د مینینګوکوکل ناروغۍ او د دې مخنیوي څرنګوالي په اړه نور معلومات د پاڼې په کېڼ اړخ کې لیست شوي سایټونو کې زده کړئ.

## د خوندیتوب زده کړې تالار

د واشنګټن د روغتیا ریاست لخوا د عومي لارښوونو د عالي اداري او نورو سازمانونو په ملګرتیا رامینځته شوی د خوندیتوب زده کړې تالار د زده کړې د پیلولو ځای دی. د خوندیتوب زه کړې تالار د ښوونځیو، زده کونکو او کورنیو/پالونکو لپاره د ډېرو روغتیایي او خوندیتوب اړوند مسایلو په اړه د معلوماتو او سرچینو یو کتابتون دی.

په [HB 1230](#) کې د واشنګتن د مقننه یا قانون جوړونکي قوې لخوا د توضیحي اساسي خوندیتوب موضوعات عبارت دي له: د افیوني موادو د ډېر خوراک د مخنیوي ستراتیژۍ، د نسخې او غیر نسخه یي درملو خوندي ذخیره او د وسلو او مهماتو خوندي ذخیره. د روغتیا وزارت (DOH) د دې ستونزو په اړه عمومي پوښتنو ته د ځواب موندلو لپاره فدرالي، دولتي، سیمه ایزې او ټولنیزې سرچینې څېړلې دي.

د واشنګټن د روغتیا ریاست اړوند د خوندیتوب زه کړې تالار ویب پاڼه وګورئ:
[https://doh.wa.gov/community-and-environment/schools/safety-study-hall](https://doh.wa.gov/community-and-environment/schools/safety-study-hall)

خوندي ښوونځي
**د لارښووني لیکه**

# 24/7
## پرانستې وي

یو څه
**وایئ !**

زنګ ووهئ یا لیکلې
پیغام پرېږدئ

**253-945-SAFE**

یو څه
**اورئ؟**

په یو څه
**پوهیږئ؟**

دا ستاسو ښوونځی دی. دا خوندي وساتئ.

FEDERAL WAY
PUBLIC SCHOOLS

# د آفت وژونکو درملو کارول

د ايالتي قانون د ټولو برنامو د هغه آفت وژونکو درملو د استعمال اړوند خبرتيا د نشرول اړينه ګڼي چې په ښوونځي کې ترسره کيږي. لاندې د آفت وژونکو درملو د ادغام مديريت (IPM) پاليسي د تعليمي حوزې د آفت وژونکو درملو د کارولو د پاليسۍ په توګه کار کوي چې په قانون کې ورته اشاره شوې ده. د بشپړې کلني خبرتيا ليک لپاره، مهرباني وکړئ Brian Humphreys ته بريښناليک ولېږئ يا ورته زنګ ووهئ.

د Federal Way تعليمي حوزه زموږ په ودانيو او زموږ په ځمکو کې د ميتودونو، وسيلو او موادو له مخې د آفتونو د کنټرول هڅه کوي چې د آفتونو د قناعت وړ کنټرول نتيجه ورکړي، په داسې حال کې چې د زده کوونکو، کارمندانو او خلګو لپاره زموږ د روغتيا او خونديتوب لوړ معيارونه به په نظر کې ساتي. دې موخې ته د رسيدو لپاره موږ سره د مرستې لپاره، موږ د آفتونو د مديريت مربوطي پاليسي ("IPM") انتخاب کړئ ترڅو د هغه آفتونو اړوند ټولو ستونزو مخه ونيسو چې موږ په تعليمي حوزه کې ورسره مخ يو.

## د آفتونو د مديريت مربوط پاليسي

د آفتونو جامع مديريت د تصميم نيولو او عملي چارو د همغږۍ پروسه ده چې په چاپيريال کې او اقتصادي توګه، په تعليمي حوزه کې د آفتونو مديريتي اهدافو د پوره کولو لپاره د آفتونو د کنټرول اړوند د خورا مناسبو ميتودونو او ستراتيژيو څخه استفاده کوي.

ا د Federal Way دولتي ښوونځيو يوه اراده ده چې د آفتونو د کنټرولولو لپاره د IPM اداري پاليسيو څخه کار واخلي ترڅو د آفتونو فعاليت مخه ونيسي، اقتصادي وسيلو ته زيان ونه رسوي او همدارنګه خلګو، ملکيت او چاپيريال ته د پېښې احتمالي خطر کچه را ټيټه کړي. د هيڅ عملي اجراءاتو په شمول به بديلونو بشپړ سلسله (ميخانيکي، فزيکي، کيمياوي، کلتوري يا بيولوژيکي) به په پام کې ونيول شي.

د غير کيمياوي آفتونو مديريتي ميتودونه به په هغه صورت کې چې ممکنه وي، د کنټرولي پروسيجرونو د څلورو کچو په کارولو سره پلي کيږي. دا کړنلارې ډاډ ورکوي چې د وتلو او لاسرسي څخه د مخنيوي، د سرپناه او استوګنې اصلاحات، ميخانيکي او فزيکي کنټرول او د آفت وژونکو محدودول او په اړه يې قضاوت کول ټول د "غوره" ميتود د انتخابولو وړاندې په پام کې نيول شوي دي. کله چې دا مشخص شي چې آفت وژونکي درمل بايد د مديريتي اهدافو د پوره کولو لپاره وکارول شي، لږترلږه خطرناک مواد، فورموله او د غوښتنليک طريقه به انتخاب شي.

مخکې له دې چې د کنټرول کومې تګلارې په کار واچول شي، لومړی د ټولو راپور شويو آفتي ستونزو لپاره بشپړ تفتيش ترسره کيږي. تفتيش د آفتونو د ډولونو ريښتيني شتون او بڼه، روغتيا يا ملکيت ته د ګواښ کچه، د ستونزې سرچينه، او د نورو انتاناتو لپاره مساعد شرايط ارزوي.

**کنټرول:** د تفتيش وروسته، د کنټرول ستراتيژي تعليمي حوزې ته د تصويب لپاره وړاندې کيږي. (د IPM په پوهيدو سره لکه څنګه چې پورته ويل شوي) د محافظت لپاره د ګمارل شوي کارمند لخوا تصويب ته اړتيا شته. که چيرې د آفتونو ستونزه تضمين نه شي، د کنټرول اړوند ستراتيژي ممکن نور کار ته اړتيا ونه لري. د کنټرول ستراتيژۍ لاندې مرحلې لري:

**د کنټرول لومړۍ مرحله:** اخراج يا د لاسرسي انکار. (د آفتونو د ننوتلو مخه ونيسئ)

**د کنټرول دوهمه کچه:** د استوګنې او سرپناه ترميم. (د خوړو څخه د آفتونو لرې کول، او ددوی لپاره د نامناسبو شرايطو را مينځته کول)

**د کنټرول درېيمه درجه:** ميخانيکي کنټرول. (د حشراتو د کنټرول لپاره د جالونو، مخنيوي او څارنې وسايلو کارول)

**د کنټرول څلورمه کچه:** د آفت وژونکو درملو عاقلانه کارول. په دننه کې وړانديز شوي غوښتنليکونه د آفتي حشراتو تر چاپېرولو، فيرومونونو، بوريک اسيد دوړو، يا د يو داسې منل شوي آفت وژونکي درمل پورې محدود دي چې د افت وژونکي خطر کموي. دا زموږ پاليسي ده چې هيڅ سرپرست، د ښوونځي کارمند، ښوونکي، والدين يا نور رضاکاران نه شي کولای په تعليمي حوزه کې هيڅ ډول آفت وژونکي درمل تطبيق کړي يا يې واخلي يا يې هم راوړي. د آفتونو ټولې ستونزې د فعاليت د حکم يا تليفون له لارې د ساتنې څانګې ته راپور کړئ.

**د ريکارډ ساتل:** د ټولو تفتيشونو، فعاليت، غير فعاليت، او کنټرولي اقداماتو ريکارډونه ساتل کيږي، چې په دې کې د آفت وژونکو درملو کارول هم شامل دي. دا ريکارډونه د تعليمي حوزې لخوا ساتل کيږي او د محافظت چارو د رياست په دفتر کې ساتل کيږي.

د آفت وژونکو درملو د کارولو د خبرتيا اړوند د نورو مالوماتو يا پوښتنو لپاره، مهرباني وکړئ دلاندي اشخاصو سره اړيکه ونيسئ:

Brian Humphreys
Maintenance Manager
Support Services
Federal Way Public Schools
1211 S. 332nd St.
Federal Way, WA 98003
bhumphre@fwps.org
253-945-5939






ParentSquare

# د ParentSquare سره د Federal Way دولتي ښوونځيو سره وصل پاتې شئ

**Parent Square په ټولو مخابراتي وسایلو کې یوه وسیله ده چې کورنیو ته اجازه ورکوي چې له هر ځای څخه وصل پاتې شي!**

## د Parent Square سره، د FWPS کورنۍ به:

- د بریښنالیک، متن یا اپلیکیشن له لارې ټولو تعلیمي حوزو، ښوونځي، او ټولګي سره اړیکه ولري.
- د راتلونکو مراسمو لپاره د ښوونځي جنتري او RSVP وګورئ.
- د دوی د خبرتیا انتخابونه تنظیم کړئ.
- پیغامونه د په خپله مورنۍ ژبه ترلاسه کړئ.
- او نورا!

په داسې حال کې چې Parent Square ته د هرې وسیلې له لارې لاسرسی ولرئ، موږ کورنۍ هڅوو چې د ښوونځي سره د اړیکو لپاره د چټک لاسرسي لپاره اپلیکیشن ډانلوډ کړي.

که تاسو د Parent Square په اړه کومه پوښتنه لرئ، مهرباني وکړئ د FWPS د مخابراتي څانګې سره په 253-945-2264.

ParentSquare
ParentSquare
★★★★★ (11)

Download on the App Store

ANDROID APP ON Google play

نور مالومات په **www.fwps.org/parentsquare** کې ترلاسه کړئ

FEDERAL WAY
PUBLIC SCHOOLS

هر زده کوونکی: یو غږ. یو خوب.
یو روښانه راتلونکی.







## MICROSOFT OFFICE 365 او GOOGLE G SUITE FOR EDUCATION

د Federal Way د دولتي ښوونځیو ټول زده کوونکي له وړکتون څخه تر 12 ټولګي پورې وړیا بریښنالیک خدمات او یوازې د تعلیمي موخو لپاره د همکارۍ ځای ته لاسرسی لري. خدمتونه او حسابونه د تعلیمي حوزې لخوا د Microsoft Office 365 او Google G Suite for Education په کارولو سره چمتو شوي، دا دواړه د کلاوډ پر اساس محصولاتي موارد لري چې هر ځای، هر وخت په کیمپس او له کیمپس بهر خدماتو ته لاسرسی چمتو کوي.

د زده کوونکو لپاره د تعلیمي حوزې بریښنالیک د زده کوونکي د آی ډي او کارن نوم په توګه کارول کېږي او هماغه پاسورډ کاروي. د مثال په توګه، یو زده کوونکی چې د آی ډي شمېره یې 12345 وي، دوی به خپل مالومات په لاندې ډول وګوري:

- Office 365: 12345@fwps365.org
  وېب پاڼه: https://login.microsoftonline.com
- G Suite for Education: 12345@p12fwps.org
  وېب پاڼه: https://www.google.com/a/p12fwps.org

دا حسابونه زده کوونکو ته د دې لپاره وړاندیز کیږي تر څو د دوی ښوونکو او کارمندانو سره دوامداره او باوري اړیکه چمتو کړي. زده کوونکي باید هیڅکله د خپل حساب پاسورډونه له نورو سره شریک نه کړي.

برسېره پردې، د مایکروسافټ سره زموږ ملګرتیا د وړکتون څخه تر 12 ټولګیو ټولو زده کوونکو ته دا وړتیا ورکوي چې په Office 365 کې تر 15 اپډېټ وسیلو کې نصبېږي، 5 جوازونه د لپ ټاپ کمپیوټرونو (MAC یا PC) لپاره، 5 جوازونه د ځیرکو ټلیفونونو لپاره او 5 جوازه ټابلیټي وسایلو (iOS او Android) لپاره. مجموعي اجزاء د پلټفارم او وسیلې پر اساس توپیر لري. په اپلکېشنونو کې د Microsoft Outlook، Word، PowerPoint، OneDrive، OneNote او د Microsoft د زده کړې مربوط وسایل شامل دي. زده کوونکي کولای شي دې خدماتو ته د خپل بریښنالیک آدرس او د تعلیمي حوزې د پاسورډ له لارې لاسرسی ومومي. د Office 365 کارول د زده کړې وسیلو لوړ پوړو مجموعي اوزارو ته د زده کوونکو لاسرسي وړتیا ورکوي چې د خلاقیت، همکارۍ او تولید لپاره رامینځته شوي دي.

[په کمپیوټر کې د Microsoft Office نصبولو طریقې د زده کولو لپاره دلته کلیک وکړئ.]

له وړکتون څخه تر 12 ټولګي پورې ټول زده کونکي د زده کونکو انفرادي حسابونه لري. که ستاسو زده کونکی د خپل پاسورډ په اړه ډاډه نه وي، مهرباني وکړئ د مرستې لپاره د ښوونځي سره اړیکه ونیسئ.

**عدم مسؤولیت:** د حسابونو لپاره د Microsoft Office 365 او/یا G Suite ته لاسرسی او کارول یو امتیاز دی. د دې حسابونو کارول د ورته شرایطو او محدودیتونو تابع دي چې د تعلیمي حوزې د شبکې پر کارولو باندې پلي کیږي.

که چیرې تعلیمي حوزه داسې دلیل ولري چې باور لري چې اړوند حساب غلط کارول شوی یا زده کوونکي د تعلیمي حوزې له پالیسیو یا د منلو وړ استعمال د لارښودونو څخه سرغړونه شوې ده، نو تعلیمي حوزه حق لري چې اړوند حساب ته ستاسو لاسرسی لغوه کړي. د تعلیمي حوزې د پالیسۍ یا د دې لارښوونو څخه سرغړونه ممکن د انضباطي عمل پایله ولري، چې په دې کې د ښوونځي څخه ځنډېدل یا اخراج او د شبکې او کمپیوټر ته د لاسرسي امتیازاتو تعلیق یا لغوه کول شامل وي.

هغه زده کونکي چې Microsoft Office 365 او/یا G Suite کاروي په سیسټم کې د دوی بریښنایي فایلونو د نقل او/ یا "پیک اپ" مسؤول دي. تعلیمي حوزه د کاروونکي تېروتنې، سیسټم تېروتنې یا ناکامۍ له امله د ورک شویو مالوماتو مسؤولیت نه لري. تعلیمي حوزه حق لري چې د زده کونکي په Google Apps for Education او/یا Microsoft Office 365 حساب کې د پلټنې، امنیت یا مخافظت چارو اړوند موخو لپاره ذخیره شوي مالوماتو ته لاسرسی ولري.